
Ready4K

# په متحده ایالاتو کي ښوونځي ته ښه راغلاست!






په متحده ایالاتو کې
ښوونځي ته ښه راغلاست!

د والد یا سرپرست په حیث، تاسو د خپل د ماشوم د زده کړو په برخه کې ستره ونډه لرئ. په ښوونځی کی ستاسو د ګډون لپاره ډېرې لارې چارې شتون لري. کله چې تاسو د خپل ماشوم په زده کړو کی ګډون کوئ، تاسو له خپل ماشوم سره په زده کړه او بریالیتوب کې مرسته کوئ!

لاندی ذکر شوی خو ټکو ته پام وکړی:

# په اړیکه کې اوسئ. د ټلفون یا ایمیل له لارې په اړیکه کې اووسئ.

**لارښوونه:** د ښوونځي د دفتر شمېره په خپل ټلفون کې ونیسئ. که چېرې تاسې پوښتنې لرئ او یا غواړئ چې له اداري سره ووینئ، هر وخت کولای شئ چې د ښونځۍ له دفتر سره په اړیکه کې شئ.



دلته په متحده ایالاتو کې والدین د خپل ماشوم له ښوونځي سره په مستقیم ډول اړیکه کې اوسي. د خپل ماشوم په اړه هر کله کولای شي له ښونځۍ سره یې په اړیکه کې شي. ښوونکې غواړي چې تا سو ورسره په اړیکه کې اووسيږئ.

## زه باید څه وخت له ښوونځي سره ټلیفوني اړیکه ونیسم؟

- که چېرې ستاسو ماشوم ښوونځي ته ناوخته ورځي او یا غیر حاضر وي، تل د ښوونځي د خبرولو لپاره له هغوی سره اړیکه ونیسئ.
- که چېرې تاسو پوښتنې لرئ، چې د ښوونځي چارې څه ډول پر مخ ځي، اړیکه ونیسئ. د مثال په توګه، تاسو ښايي د دې پوښتنې لپاره اړیکه ونیسئ چې "زه باید د خپل ماشوم په بکسه کې کُم شیان واچوم" یا "په ښوونځي کې غرمنۍ ډوډۍ څه ډول وي؟"
- که چېرې د خپل ماشوم په اړه پوښتنې یا اندېښنې لرئ، اړیکه ونیسئ. تاسو دخپل ماشوم له ښوونکي سره د خبرو کولو غوښتنه کولی شئ.
- که چېرې تاسو غواړئ چې د خپلې کورنۍ یا ماشوم په اړه داسې نور معلومات شریک کړئ، اړیکه ونیسئ. تاسو ښايي غواړئ د ښوونځي اداره مو د مهمو دودونو سنتونو په اړه وه پوښه وی.


مهم معلومات: تاسو هر وخت کولای شئ چې د خپلې ژبې د ژباړونکې غوښتنه وکړئ. د مثال په ډول: کله چې تاسو اړیکه نیسئ، وواياست، زه داسې ژباړونکې غواړم چې پر [دري] ژبه خبرې کولای شي.

تاسو همدا راز کولای شئ چې له ښوونځي سره په اړیکه نیولو کې له یوه ملګري، د ټولنې له اداري، وکیل یا د خپل کیس مدیر څخه مرسته وغواړئ.

ځینې وخت د ښونځۍ شمیره مصروفه وی، نو باید څو ځلی شمیره دایل کی چی اړیکه مو ونیول شي. زنګ وهلو کی کومه ستونځه نشته، کولای شی تر هغه زنګ وه واښی چی تر هغه مو اړیکه نوی ټینګه شوی.

Ready4K

# د ښونځی کلیزه وڅارئ (تعقیب کړئ).



د ښوونځي په کلیزه کې هر هغه څه چې ښونځی کې راپېښیږي، شتون لري. جنتري په عمومي ډول د ښوونځي په ویب پاڼه کې موندل کېدلی شي. په دې پوهېدل چې څه پېښېدونکي دي، له تاسو سره په چمتووالي او په برنامو کې د شریکیدو مرسته کوي

## زه باید کم معلومات د ښونځی جنتري په اړه وکړم؟

**لارښوونه:** تاسو کولی شئ چې ځان لپاره د جنتري یوه کاپي له ښونځی نه راواخلئ.

- په متحده ایالاتو کې ډېری ښوونځي د دوشنبې، سه شنبې، چهارشنبې، پنجشنبې او جمعې په ورځو کې پرانیستي وي. د شنبې او یکشنبې په ورځ ښوونځي بند وي.
- ډېری ښوونځي د اوړي پر مهال اوږده رخصتي لري. دا به د ښونځی په جنتري کې ذکر شوی وي.
- کله چې ښوونځی بند وي، د ښوونځي په جنتري کې د رخصتیو ورځې ذکر شوی وي. کله چې ښوونځی وختي رخصتیږي، نیمې ورځې هم د ښونځی په جنتري کې ذکر شوی وي.

مهم معلومات: هر ډول رخصتۍ او د ښونځی نیمې ورځې مخکې له مخکې یادداشت شوی دی. که چېرې تاسو غواړئ چې پر تومورو ورځو کار وکړئ، تاسو باید د ماشوم کور تهٔ د راوستلو لپاره ترتیبات ونیسئ.

Ready4K

# د ښونځی له خوا چی اړیکی له تاسو سره نیول کیګی، په پام کی ونیسی.

ښوونځی به له تاسو سره په بېلابېلو طریقو په اړیکه کې وی. هغوي دجلسو یا د ښوونځي د رخصتیو په اړه ستاسو سره اړیکه نیسی. په ښوونځي کې ستاسو د ماشوم د ملاتړ یوه ستره برخه، د ښوونځي له لوري د اړیکو ځواب ورکول دی



**لارښوونه:** که کولای شی، د ښوونځي ویبپاڼه په نښه یا (بوک مارک) کړی. د ښونځی په ویبپاڼه کی ډیر مهمه معلومات وی.

## ښوونځی به له ما سره څه ډول په اړیکه کې شي؟

**معلوملاً د ایمیل له لاری به له تاسو سره به اړیکه نیسی.**

لارښوونه: که چېرې تاسو ایمیل آدرس نلری، ښوونځي په جریان کی وساتی. هغوی ښایي کولای شي چې د یوه ایمیل آدرس په جوړولو کې درسره مرسته وکړي.

**ښوونځی ښایي یوازې تاسو لپاره له عمومي خبرتیا یا معلوماتو په اړه تاسو سره اړیکه ونیسي.**

لارښوونه: د خپل تلفون غږیز پیغام سټینګ جوړ کړی، ترسو ښونځی وشی کولای تاسو ته غږیز پیغام پریدی.

**مسج استول د ښوونځي له خوا تاسو سره د اړیکي نیولو یوه بله لاره ده.**

لارښوونه: کمه شمېره چی ښونځی تاسو ته مسج را استوی، ځان سره یی وساتی. همدا راز که چېرې تاسو د ټلیفون شمېره بدله کړه، ښوونځي ته خبر ورکړئ.

**د ښوونځي اداره ښایي ستاسو د ماشوم په بکسه کې معلومات در واستوي.**

لارښوونه: هره ورځ له ښوونځي څخه راتګ وروسته د خپل ماشوم بکسه ولټوئ! څو وګورئ چې ښوونکی له خوا څه راستول شوی.

**ښوونځی ښایي ځیني وختونه تاسو ته معلومات د پوسته خانې له لارې در واستوي.**

لارښوونه: خپل د هر نوی کور آدرس ښوونځی سره شریک کړی.

**ستاسو د ماشوم نومرې، کورنی دندې او د ټولګي نور معلومات هم په انلاین بڼه پوسټ کیږی. د ښوونځي د غرمنی د ډوډی لیست هم کولای شی چی آنلاین تر لاسه کړی.**

لارښوونه: تاسو شاید پاسورډ ته اړتیا ولری ترغو دغه معلوماتونه تر لاسه کړی. له ښوونځي یا خپل کیس منیجر څخه وغواړئ چې په دې برخه کې درسره مرسته وکړي. خپل پاسورډ یادداشت کړی ترسو د ارتیا وخت کی مو پیاد وی.

مهم معلومات : که چېرې د ښوونځي اداره تاسو ته داسې معلومات در استوي چې تاسو ورباندی نه پوهېږئ، ښونځی ته خبر ورکړئ. هر کله له ښونځی څخه په اړوند موضعاتو باندی خبری کولای شی

همدا راز که چېرې تاسو تازه معلومات نه ترلاسه کوئ، ښونځی ته خبر ورکړئ. که چېرې بله کومه طریقه وي چې هغوي له تاسو سره په اړیکه کې شي، په دې اړه هم خبر ورکړئ.

Ready4K

# په خدمتونو او فعالیتونو کې د ګډون لپاره خپل نوم راجستر کړی.

ډېر ښوونځي خپلو زده کونکو ته د ښه خدمتونه او ملاتړ وړاندیز کوی. په دې کې ښایي ښوونځي ته د تګ راتګ لپاره یو بس، د سهار او غرمې وړیا ډوډی، ځانګړي کلپونه او تر ښوونځي وروسته فعالیتونه شامل دي.



**لارښوونه:** ښوونځی ښايي د دغو خدمتونو په اړه تاسو ته وه وايي. پیه دي اړه پوښتنه کول هم هر وخت مناسب کار دی. پوښتنه وکړئ چې زما ماشوم کومو خدمتونو لپاره وړ دی؟

## زه باید د ښوونځي د خدمتونو او فعالیتونو په اړه په څه وپوهېږم؟

**تاسو د ځینو خدمتونو حق لرئ چې اجرأ یی کړی. په دې کې ښایي د انګلیسي ژبې کورش او وړیا د غرمنی ډوډۍ شامله وي.**

لارښوونه: تاسو ښايي په خدمتونو کې د ګډون لپاره د فورمو ډکولو ته اړتیا ولرئ. د دغو فورمو په ډکولو کې د مرستې لپاره له ښوونځي، ستاسو کیس ورکر ، یو ملګري یا داوطلب څخه غوښتنه کول مناسبه کار دی.

مهم معلومات: ستاسو ماشوم د غرمی ډوډی په اړه اختیار لری چی څه د خوړلو لپاره انتخابه وی. زده کونکی اختیار لری چی د ښونځی ډوډی، او یا د کور سخه ځان ته د غرمی ډوډی یوسی. که تاسو غواړی چی ستاسو ماشوم د ښونځی بعضی تعامونه ونه خوری نو ښونځی سره په دی اړه خبری وکړی.

**ستاسو ماشوم ښايي د شخصي ښوونکی یا د ژبې د زده کړې اضافي مرستې لپاره وړ وي. ښوونځی ښايي اړ وي چې د دغو خدمتونو له وړاندیز څخه یو څه وخت مخکې ستاسو له ماشوم سره آشنا شي.**

لارښوونه: که چېرې تاسو فکر کوئ چې ماشوم مو زیاتی مرستی ته اړتیا لري، خو نه یې ترلاسه کوي، ښوونځي ته پدی اړه خبر ورکړئ.

**ډېر ښوونځي، تر ښوونځي وروسته کلپونه، کمپونه، فعالیتونه او د لوبې خدمات وړاندې کوي. دا له نورو ماشومانو سره د لیدو، لوبو او د خوښې وړ شیانو معلوملو لپاره ښه تفریح دي.**

لارښوونه: له ښوونځي څخه وپوښتئ، آیا تر ښوونځي وروسته وړیا فعالیتونه زما ماشوم لپاره شتون لری؟ زه څنګه کولای شم نور معلومات تر لاسه کړم؟ پوښتنه وکړئ چې آیا د دغه فعالیتونو نه وروسته زما د ماشوم کور ته ستیرو لپاره بس شته دی؟

# په کور کې د زده کړې مرسته.

ستاسو ماشوم تاسو ته تمه لري. تاسو د هغه لومړنی او تر ټولو مهم ښوونکی یاست. کله چې تاسو د ښوونځي او په کور کې د زده کړې ملاتړ په اړه پوښتنه کوئ، تاسو هغوي ته ښیاست چې تاسو د هغوی زده کړې ته څومره ارزښت ورکوی.



## لارښوونه:

ښونځی نه د راستنیدو پرمهال له ماشوم سره یو ځای د هغه د ښونځی بکس را خوشی کوو. کم شیان چی له بکسه راباسی د هغه په اړه ځنی پوښتنه وکړی. که څه هم کورنی دندی ستاسو په ژبه ندی ، بیا هم کولای شی چی په اړه یی وغږیږی. کوښښ وکړی! د مثال په توګه، "کولی شی ما ته د دغې کورنۍ دندې په اړه څه ووایه؟"



## زه سنګه کولای شم په کور کی د خپل ماشوم په زده کړو کی ورسره مرسته وکړم؟

- په ښوونځي کې د هغوي د ورځې په اړه پوښتنه وکړئ. هڅه وکئ! له دغو پوښتنو څخه وه پوښتني، "څه شی تاته آسانه وه؟ څه شی تاته سخته وه؟ نن په ښوونځي کې کوم یو شی تاته ډېر په زړه پوري وه؟ آیا ته غواړې چې په ښوونځي کې دې یو سه شی بدلاو راشي؟ څه شی؟"
- له ښوونکي سره اړیکه ونیسئ او پوښتنه وکړئ "تاسو دغه میاشت څه ور زده کوئ؟ زه څه کولی شم چې په کور کې د دغې زده کړې په برخه کې مرسته وکړم؟"
- خپل ماشوم سره وخت تیر کړی. له تاسو سره وخت تېرول، له هغوي سره په وده کې مرسته کوي.
- ډیر کوښښ وکړئ چې هغوي د شپې ښه خوب وکړی څو په راتلونکې ورځ کی زده کړې لپاره چمتو وی.
- کله چې هغوي د ښوونځي په اړه خپل احساسات څرګندوي، غوږ ورته ونیسئ. هغوي ته ډاډ ورکړئ چې تاسو به تل د مرستی لپاره ورسره یاست.
- د هغوي ټول سخت کار په پام کې ونیسئ او یادونه یې ورته وکړئ. هغوي ته ووایاست، "زه وینم چې ته څومره شیان زده کوې او وده کوې! "

مهم معلومات: خپله کورنی، دود او کلتور ولمانځئ. خپل ماشوم ته ډاډ ورکړئ چې هغوي کولی شي چې نوي شیان هم زده کړي او په عین وخت کې له خپلو کلتورونو سره نښلېدلی پاتې شي.

- د خپل پلارني هېواد کیسی او سندرې ورسره شریکې کړئ.
- پر هغه ژبه خبرې وکړئ او ولولئ چې تاسو ورسره ډېر هوسا یاست. تاسو به په هره طریقه د خپل ماشوم ملاتړ او مرسته کوئ.
- او ښوونځي ته هم د خپل کلتور په اړه معلومات ورکړئ. هر څومره ډېر چې هغوي وپوهیږي، ستاسو له ماشوم سره ډېره مرسته کولای شي.
- ماشومان د کم وخت په پرتله له مشرانو نه نوی ژبه زده کولای شی. د والدینو په حیث به دا سخته وي. تاسو یواځې نه یاست. خپلې تجربې له خپلو نورو ملګرو سره شریکې کړئ. پر دې وپوهېږئ چې ستاسو ماشوم به تل تاسو ته ګوري.

Ready4K

# په یاد ولرئ:

په متحده ایالاتو کې ښوونځی پې لول یو ستر بدلون کېدلی شي. دا په بشپړ ډول عادي خبره ده که چېرې ستاسو ماشوم د نورو په پرتله ډیر احساساتی وی.

خپل ماشوم وپوهوئ چې سره له دې چې حالات بدل شول، خو ځینې شیان به د تل لپاره همداسې پاتې وي، لکه ستاسو مینه ، مرسته او ملاتړ.

او که چېرې ستاسو د ماشوم احساسات د هغوی په خوړو، خوب او زده کړو کې د ستونزو لامل شوي وي، د مرستې لپاره یې ډاکټر یا نرس سره اړیکه نیول هر وخت مناسب کار دی.

په یاد ولرئ، ستاسو لپاره هم دا یوه عادي خبره ده چې ستر احساسات ولرئ. د ځان د پاملرنې لپاره هم وخت وباسئ. د خپلې خوښې وړ کارونه وکړئ او/ یا له ملګرو او کورنۍ سره ووینئ. د ژور ښه نفس کاګلو یا د یو ښه قدم وهلو لپاره ځان ته وخت ورکی. تاسو په هر څه پوهیګی او تاسو دا کولای شی!



Ready4K